تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلي، ټولنیزه او فرهنګي وېب پاڼه

بسمل

# راغلي نا بللي



خپل ځان او بل پرې وژني خو وسلې پردۍ پردۍ دي

سرونه يې غټ غټ خو ارادې پردۍ پردۍ دي



پوهېږم له مېړانې را وتلي يا ستړ کر ته

شپه ورځ سرونه ښندئ خو نقشې پردۍ پردۍ دي

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلې، ټولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه




ډېر مه ورته ګډېږه را نسکور به شي کمبته

نڅادې ډېره وکړه خونغمې پردی پردی دي

 

دلوی دښمن مزدورو هم مو وژني هم پرې نازئ

باور پرې کوئ تاسو خو وعدې پردی پردی دي



سبا بېګا لګیا درته راوړي د کرکې توري

منم، کاتبان ستا دي خو کیسې پردی پردی دي

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپېيلې، ټولنيزه او فرهنګي ويب پاڼه



دا تاسو يې چې څښئ پکې زهرجنې غوندې ښکاري

شراب به مو د ځان وي خو پيالې پردۍ پردۍ دي






ورواچوه واسکټ چې ستا استاد هم جنتي شي

زموږ په قبرستان کې خو جنډې پردۍ پردۍ دي



دا نه وينې، چې زانګې بېګناه پاس په هوا کې

سرونه دي زموږ خو غرغرې پردۍ پردۍ دي

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه ، ناپیلي ، ټولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه



دخدای لوی جهان تنګ کړي لکه سپم دوړې ستنې

زاهد مو کلیوال خو موسلې پردۍ پردی دي

 

لس کاله شوو ، چې خوب مو یوه شپه هم سم ونه کړ

باندې زموږه خپلې خو چاپې پردۍ پردی دي



جانانه څه چې جوړه کړو جونګړه په ځنګل کې

په دې کلابند ښار کې خو ګزمې پردۍ پردی دي

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپيلې، ټولنيزه او فرهنګي ويب پاڼه




پخپلو کې خو هيڅ وخت سره لاس او ګرېوان نه وو

دورونو قومو مينځ کې خوفتنې پردۍ پردۍ دي



دعلم او معرفت په ځای يې سره اورونه راوړل

يو بل تورنو خو دسيسې پردۍ پردۍ دي



زموږ دکلي مينځ کې نړيواله جګړه پيل شوه

هستي مو دبابا ده خو توبرې پردۍ پردۍ دي

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه ، نابیلي ، ټولنیزه او فرهنګي وېب پاڼه



پرون يې د کرزي ترږیره لاندې بارخر تېر کړ

داته ځلوښتو ملکو خو پهرې پردۍ پردۍ دي



له سلو قصابانو غوا مرداره شوه هغه ورځ

دوی هر يو ښه ماهر و خو چړې پردۍ پردۍ دي





راغلي نا بللي دي خدای ژرله سیمې ورک کړي

بسمله ملک زموږ خو اداري پردۍ پردۍ دي